<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

عمران خان د هند پر وړاندې مقاومت ته د «ترهګرۍ» په ویلو، مودي ته د ټاکنو ډالۍ ورکوي



د ۲۰۱۹م کال د فبرورۍ په ۱۹مه د پاکستان لومړي وزیر، عمران خان یوه ویډیو خپره کړه چې محتاطانه خبرې یې پکې کړې وې. د عمران خان د خبرو دغه ویډیو د فرورۍ په ۱۴مه د پالواما له برید وروسته د هند او پاکستان تر منځ د شخړو په زیاتېدو سره خپره شوه. د پالواما په برید کې د اشغال شوي کشمیر یوه زړور ځوان ځلوبښت اشغالګر هندي سرتېري دوزخ ته ولېږل. دغه با زړور برید د لږ مسلح خو با انګېزه ملکیانو پر وړاندې د هندي اشغال ماته وښوده. پر دې سربېره، دغه زړور برید د ۲۰۱۶م کال په جولای کې د خدای بښلي ځوان قمندان، برهان واني تر شهادت وروسته د هندي ترهګرۍ پر وړاندې د کشمیر د ځوانانو تر ټولو لوی برید و. دا عمل د هغو کشمیري ځوانانو د مبارزې بېلګه ده چې لا یې خپل مړي د پاکستان تر بیرغ لاندې خاوره کې ښخوي او په بې له کومې وېرې وايي چې «کشمیر به د پاکستان وي» (کشمیر بنیګا پاکستان!).

د دې پر ځای چې د هندي پوځیانو د پښو په ښورولو سره دوی ترې مخکې شوي وای، عمران خان دفاعیه خبرې کوي او د هند په نیږدې ټاکنو کې د مودي بریا تثبیتوي. د دې پر ځای چې د هند دا اووه پېړۍ اشغال او ترهګري وغندي، عمران خان د دې په ویلو سره چې « موږ غواړو په سیمه کې ترهګري ختمه شي» د دوی پوځي شتون قانوني بولي. عمران خان د دې پر ځای چې د اشغال شوي کشمیر د مسلمانانو د منظم مسلح کولو خبره وکړي، وايي: «دا موضوع یوازې په خبرو حل کېږي». عمران خان ددې پر ځای چې په خپله دروازه کې د هغوی په اصطلاح، خیالي دفاع یې وغندي، له هغوی سره نرمې خبرې کوي او د دې پر ځای چې پاکستاني پوځ د کشمیر مظلومو مسلمانانو ملاتړ ته تیار کړي، عمران خان تر ده مخکې امریکایي غلامانو غوندې د خیانت لار نیسي او مخکې له دې چې په سیمه کې د هند جنایتونه نور هم زیات شي، مخه یې نه نیسي.

ای د پاکستان د پوځ زمریانو! د پالواما برید د کشمیر د مبارزو ځوانانو لخوا د دوی د ازادۍ لپاره تاسو ته د واحدې جګړې لپاره تر چغې کم نه و. تاسو تړلي زمریان یئ، جرات وکړئ، ستاسو د هر یوه تن برید د نړۍ په هر قوم باندې د مسلمان امت زور ښیي. عمران هم د مشرف، زرداري او نواز غوندې له سرو کرښو تېر شو، یو قدم مخکې تګ ته یې مه پرېږدئ. نو دا ډارن او بې جراته حکام بس دي، چې د مسلمانانو پر احساساتو لوبې کوي او په مکارۍ د دښمنانو د هیلو لپاره کار کوي. د خیانت او خاینانو مخ ورک کړئ، د نبوت پر منهج ژر تر ژره خلافت بیا تاسیسولو لپاره نصرت ورکړئ. که تاسو زمریان له دې بند نه د اسلامي ځمکو د ازادولو لپاره ځانونه خلاص کړئ، د مومنانو دعا به واخلئ او الله سبحانه و تعالی به ډېر درباندې مهربان شي، وبه مو ښیي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلِيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ)

[ توبه: ۱۲۳]

ژباړه: اې مومنانو! د حق له هغو منکرانو سره وجنګېږئ چې تاسې ته نژدې دي او باید هغوی په تاسو کې کلکوالی (زیږوالی) ومومي؛ او پوهېږئ چې الله د پرهېزګارانو ملګری دی.

حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر

د صدور ګڼه: ۳۲/۱۴۴۰

۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الثاني ۱۵مه

۲۰۱۹م، د فبروري ۲مه